# د فضل الرحيم ساقي د ژوند حالات
# د تحقيق په رڼا کښې

ډاکټر ايس ظفرالله بخشالي*

**Abstract:**

The history of Indo-Pak has witnessed many movements, Khudai Khidmatgar (Red Shirt Movement), one among them, was a unique struggle which has multi-goals. Apart from a socio-political struggle, the very focus of this movement was to develop a literary culture of reading and writing among the common masses. To achieve this gigantic aim, the founding members of the movement established a network of independent schools. Not only this effort produced many eminent scholars, poets, critics, politicians and journalists but also worked to use capabilities of these literary people for the progress of Pashto language. In this regard, they were trained to write impartially the ups and downs that happened in the politics of Indo-Pak subcontinent. This stress on keeping the annals of history not only proved to be the significant part of Pashto literature but also recorded the very history of that era with minimum biasness. Fazal Rahim Saqi, among them, emerged one of the great writers of the said movement, who played an important role of a record keeper. He contributed both to Pashto prose and poetry. The present study will try to explore his contributions for the development of Pashto language and literature.

**زېږون:**

په پښتنو کښې د ليک لوست او علم د کمي د وجې نه د اکثرو شخصياتو د زېږون د نېټو خو يا ښېخي پته نۀ لګي او يا په شکونو او قياسونو اډانه لري. دغه مسئله زمونږ د اکثر اديبانو شاعرانو سره هم شوې دۀ خو دا ډېره د نېک مرغۍ خبره ده چې د خدائي خدمتګار تحريک يو مقصد دا هم ؤ چې پښتانۀ ليک لوست زده کړي. فضل الرحيم ساقي هم زده کړه کړې وه او د ليک اهميت هم ورسره ؤ، نو هغۀ د خپل زېږون نېټه او د ژوند ابتدائي حالات ئې په نظم او نثر کښې خوندي کړي دي.

همېش خليل فضل الرحيم ساقي داسې معرفي کړی دی:

* Assistant Professor at Department of Pashto University of Abdul Wali Khan Mardan.

"**نوم**: فضل الرحيم خان
**تخلص**: ساقي
**د پلار نوم**: عبدالعزيز خان
**زېږېدنه**: جون ۱۹۰۴ء
**کور کلی**: وردګه چارسده
**مړينه**: يکم نومبر ۱۹۹۴ء"(۱)

هم دغه کال فضل الرحيم ساقي په خپله هم ښائي.

"زۀ په ۱۹۰۴ء کښې د جون په مياشت کښې د عبدالعزيز خان کره پيدا شوم"(۲)

عبدالروف بېنوا د ساقي پېژندګلو څۀ داسې ليکلې ده:

"ښاغلی فضل الرحيم ساقي د عبدالعزيز خان زوی، په ختمه محمدزی پښتون، د پښتو ژبې قومي او اجتماعي حساس شاعر په ۱۹۰۴ء کال کښې د پښتونستان د اشنغر د لوی مېرې په مشهوره بانډه (وردګه) کښې زېږېدلی دی"(۳)

ښاغلی زېبر حسرت ليکي چې:

"فضل الرحيم چې تخلص ئې ساقي ؤ، په عرف عام کښې په فضل الرحيم ساقي يا ساقي صېب مشهور ؤ. د پلار نوم ئې عبدالعزيز خان، د نيکۀ نوم ئې خواص خان او د کر نيکۀ نوم ئې مير عالم خان ؤ، چې د اشنغر چارسدې د رځړو کلي د کنعان خېلو څانګې سره تعلق لري. ساقي صېب د جون مياشت کال ۱۹۰۴ء کښې پېدا شوی دی، د پېدائش کلی ئې رځړ چارسده ده خو وروستو ئې مشرانو خپلو زمکو د رځړو مېره وردګې نومې کلي ته ئې نقل مکاني کړې ده. اولاد ئې وس هم په وردګه کښې مستقله استوګنه کوي"(۴)

د دې پورته حوالو نه په مهمه توګه دا جوته شوه چې فضل الرحيم ساقي د اشنغر په مشهور کلي رځړو کښې په ۱۹۰۴ء کښې د جون په مياشت کښې پېدا شوی دی، مياشت او کال نيټه خو ئې معلوم دی خو د ورځ او نېټې پته ئې لاوس هم په تيارو کښې ده. د رځړو نه بيا وردګې ته خپلو زمکو ته په کډه تلی دی، وردګه د رځړو مېره ده چې اوس ئې ابادي د کلي هومره ده او هم په دغه کلي کښې د سړک په غاړه د ساقي صېب قبر هم دی. د قبر په خازه ئې د مړينې نېټه يکم نومبر کال ۱۹۹۴ء ليکلې ده او دا شعرونه پرې ليکلي شوي دي:

د ځوانۍ عمر چې څۀ ؤ په جېل خانو تېر شو
يا په کوڅو کښې د بې ننګه پښتنو تېر شو

نـۀ د بچیـو پـه خونـد خبـر شـوم نـۀ د مـال و متـاع
د مسـتۍ خـوب ؤ د ازغـو پـه بسـترو تېـر شـو

ساقي صېب په يو نظم "زۀ" کښې ځان داسې هم معرفي کړی دی:

اصــل کلــی مــې رځــړ د هشــنغر دی
خــو وردګــه مــې بانــډه د زړګــي ســر دی
پېـدا شـوی يـم لـه عزيـز خانـه
خــواص خــان صــاحب د دۀ نــوم د پــدر دی
د هغــۀ د بابــا نــوم ميــر عــالم خــان ؤ
محمــدزی پــه ذات اصــلي پښــتون کســکر دی
زمــا نــوم فضــل الــرحيم ايښــی مــور پــلار دی
پــه ســاقي مشــهور وطــن بانــدې اکثــر دی
مســلمان اهــل ســنت والجماعــت يــم
کنعــان خېــل نامــه زمــونږ لــوئی تېــر دی
درې زامــن مــې دي مــړۀ شــوي، درې ژونــدي دي
شــپږ لونــه د پنځــو ژونــدۍ اوس ســر دی
دوه مــې ښــځې يــوه مــړه، يــوه مــې ژونــدۍ ده
پــه ســن بــاون اکــيس کښــې دا دفتــر دی
عيســوي ســن چــار کښــې يمــه پېــدا شــوی
اوس اتــاليس کالــه عمــر د مقــر دی
سياســي قېــد تېــروه پــه ډېــره مينــه
ســاقي دا دې پــه ازل کښــې مقــدر دی" (۵)

ساقي صېب يو بل نظم (زما ژوندون) کښې د خپل ځان په حواله داسې وائي:

اونــيس ســو چــار کښــې پېــدا شــوم پــه جهــان
مياشــت د جــون وه ګرمــي ډېــره وه پريمــان
لــه هغــي ورځــي چــې پــوئي شــومه پــه ځــان
لاتــر ننــه يــم پــه مېــنځ کښــې د مېــدان
د پښــتون د ننــګ او نــام مېــدان تيــار وه
دا بلبــل بــه پښــتانۀ فخــر افغــان
وړانــدې عبــدالغفار خــان د اتمــانزو شــو

وریسې شو پښتانهٔ زاړهٔ ځوانان
څهٔ زیاتي له سلو کالو وو تیر شوي
چې انګریز په پښتونخوا ؤ حکمران
پښتانهٔ ئې هسې شاني وو خوار کړي
نه دولت حیا عزت وو نهٔ ایمان
مونږ د صبر جنګ شروع کړو له انګریزه
پښتانهٔ په یوه خوله شو یکهمان
چې دوي هره سختي کړله مونږ زغمله
نهٔ له مرګه ویریدو نه له زندان
څو څو ځله په کښې قېد شومه رها شوم
څو څو کاله مې کړل تېر په یاغستان
په پنځلس کاله پس فرنګی جر شو
لاس په سر شو هم له نام او له نشان
په کال نولس سوه دېرش کښې ابتدا وه
په پینتالس کښې انګریز شو ګریذان
په سینتالیس کښې همه وطن ازاد شو
څهٔ بهارت شو څهٔ زمونږه پاکستان
په اټتالیس کښې بیا مونږه نظر بند شو
باچاخان سره خدائي خدمتګاران
دا سن بهاون عیسوي دی لابندي یو
جېلخانه کښې مې پنځم کال دی روان
هېڅ په ښو په بدو نه یو پوهیدلي
بندي شوي یو په وهم په ګمان
خدائي پوهیږي چې به کله رها کیږو
که دا جېل د هریپور شو ګورستان
نوم زما فضل الرحیم ساقي مشهور یم
نن مې جوړ کړو جېلخانه کښې دا بیان" (۶)

## ۱.۲: قام قبيله:

په اشنغر کښې اکثر پښتانهٔ محمدزي دي، ساقي صېب هم د محمدزو قبيلې سره تعلق لرلو، لکه چې وائي:

"محمدزی په ذات اصلي پښتون کسکر دی"(۷)

باچا خان د اشنغر او محمدزو په باره کښې ليکي:

"هشنغر چې د ابازو نه راواخلې تر نوښاره پورې دی، په دې کښې محمدزي اباد دي، دا ډېر ښکلی، سرسبز او اباد ملک دی او دا د پښتنو د ورورولۍ په تقسيم کښې نورو ورونړو مونږ له په خپله خوښه راکړی ؤ"(۸)

محمدزي په اصل کښې د پښتنو قبيلې مشر سړبن په اولاد کښې راځي، څمند بن خرشبون بن سړبن، د څمند په اولاد کښې خويشکي، کتاني، بنګي زي، محمدزي او توخي راځي، د محمدزي په اولاد کښې الياس زي، بارک زي، بتهي زي، عمرزي، اتمان زي، تنګی، رځړ او شېرپاؤ راځي چې مخکښې هره ېښه بيا په خېلونو کښې تقسيم شوې ده"(۹)

ساقي صېب په محمدزۍ قبيله کښې د کنعان خېلو سره تعلق لري، لکه چې په خپله وائي:

د هغهٔ د بابا نوم مير عالم خان ؤ
محمدزی په ذات اصلي پښتون کسکر دی
مسلمان اهل سنت والجماعت يم
کنعان خېل نامه زمونږه لوئی ټبر دی"(۱۰)

## ۱.۳: تعليم او روزګار:

د آريائي نظرئې مطابق پښتانهٔ د پېشې په لحاظ اکثر زميندار او کروندهګر پاتې شوي دي، د دوي د معاش ذريعه هم دغه کر کرونده او بزګري پاتې شوې ده. د محمدزو د اشنغر زمکې د سوات او کابل د سيند نه لاندې دي، په دې وجه ټولې زمکې ئې زرخېزې او د زراعت قابلې دي، اوبهٔ ئې پرېوانه دي، په دې وجه د کال دولس مياشتې په فصلونو شنې ښکاري، د زميدارۍ په کار کښې د زيات محنت په وجه پښتانهٔ په زده کړه او تعليم او تربيت کښې هم ډېر وروستو پاتې شوي دي، هم دغه مسئله ساقي ته هم راپېښه وه چې په رسمي ډول ئې مروجه علوم نهٔ وو حاصل کړي.ساقي صېب د کښې د خپلې زده کړې په بابله ليکي:

"زۀ په ۱۹۰٤ء د جون میاشت کښې د عبدالعزیز خان کره پېدا شوم، قرآن شریف، خلاصه، مُنیه مې جمات کښې ولوستل. پنج کتاب، گلستان، بوستان مې مکتب کښې رځړو کښې د انور استاد نه ولوستل او لیکل مې ورسره ورسره زده کړل. د اردو ژبه مې د مېرې د گل آباد مدرسه کښې د شجاع استاذ نه تر څلورم جماعت ولوستله، د نظم په زور د پښتو ژبې لیکل لوستل په خپله راغلل، د ډېرو لیکلو لوستلو له سببه مې پښتو، اردو، فارسي، عربي ژبو باندې ښۀ عبور حاصل شو. په ۱۹۲۸ء کښې زما شاعري شروع شوه، پښتو ژبه کښې مې د نظمونو دوه کتابونه "ډک جام" او "نیم جام" چاپ کړل. په ۱۹۳۰ء کښې مې خدائي خدمتگارۍ تحریک کښې کار شروع کړو"(۱۱)

په دغه وخت کښې هم دغه مروجه تعلیم او زده کړه وه چې په جماعت کښې به سرسري مذهبي زده کړه کېدله او په مکتب کښې به د عربۍ، فارسۍ او اردو کتابونه لوستلی شول. ساقي صېب دغه مروجه تعلیم تر څلورم جماعت پورې کړی ؤ او د خپلو استاذانو نومونه ئې انور استاد او شجاع استاد ښودلي دي. د پښتو زده کړې په حواله د ساقي صېب خبره د فکر وړ ده چې پښتو مې په خپله زده کړې ده، د نن نه سل کاله مخکښې چې زمونږ د ژبې د لیک لوست او زده کړې په مدرسو کښې کوم حالتِ زار ؤ هغه نن په دې سائنسي او د علومو په دور کښې هم هغه شان برقرار دی. ډېر کم خلَق به داسې وي چې د پښتو د زده کړې دپاره به د سکول، کالج یا پوهنتون لاړه نیسي.

د ساقي صېب د تعلیم په باره کښې ډاکټر زبېر حسرت لیکي:

"د ساقي صېب د خپلو خبرو نه مونږ په دې نتیجه رسو چې پخوا د تعلیم څۀ معیار ؤ، چې یو هلک به په مدرسه یا مکتب کښې داخل شو او تر څلورم جماعته به رسېدو نو څومره کتابونه به ئې لوستلي وو او کومې کومې ژبې به ئې زده کړې وې، خو داسې ماشوم چې د غېر معمولي صلاحیتونو څښتن وي، شاعر هم وي، نو د خپلې خصوصي دلچسپۍ له کبله څومره څۀ زده کولی شي او په وړاندې ژوند کښې څومره وړاندې تللی شي او څومره کامیابۍ حاصلولی شي"(۱۲)

اگر چې په رسمي توگه ساقي صېب تعلیم نۀ ؤ حاصل کړی خو د خپلو خداداد صلاحیتونو په سبب ئې دومره زده کړه وکړه چې کتابونه ئې ولیکل او ځان ئې د یو ادیب، شاعر او مصنف په حېث په پښتو ادب کښې محفوظ کړو.

د روزگار په سلسله کښې د ساقي صېب په لیکونو کښې واضحه څۀ نۀ شته خو خپلې زمکې ئې وې نو ضرور به ئې په کر کرونده او زمیدارۍ کښې ځان مشغول ساتلی

وي او چې کله ئې د ځوانئ په دُرشل قدم ایښې دی نو په قامي خدمت کښې لګیا شوی دی او بیا ئې هم دغه کار او روزګار ؤ.

"فضل الرحیم ساقي خپل ټول ژوند د خدائي خدمتګارئ په لار کښې تېر کړی دی، هم دې ژوند کښې هغوی شاعري هم کړې ده، ادب ئې هم تخلیق کړی دی، سیاست ئې هم کړی دی، په سیاست کښې ئې چرې هم د ذاتي مفادو خیال نۀ دی ساتلی، د قوم نه ئې څۀ غوښتي نۀ دي، د خپل ځان او خپل صحت څۀ پروا ئې نۀ ده کړې، د خپل کور او خپلو بچو تعلیم او تربیت ته په کښې هم نۀ دی وزګار شوی خو ورځ او شپه ئې په ځان یوه کړې ده، په اصلي معنو کښې ئې د خپل پښتون قام، پښتو ژبې او ادب خدمت کړی دی چې د پښتو د شعر و ادب تاریخ کښې به د سرو زرو په اوبو لیکلی شي"(۱۳)

د قام دغې لېونتوب ترې خپل ځان او روزګار هېر کړي وو، که چرې روزګار ئې کړی ؤ نو قامي روزګار ته به نۀ ؤ وزګار شوی او نۀ به ئې څۀ ادبي خدمت کړی ؤ او نۀ به ئې نوم دغه شان ژوندی پاتې شوی ؤ.

## ۱.۴: وادۀ او اولاد:

ساقي صېب دوه ودونه کړي وو او الله پاک ورله د دواړو ښځو نه اولاد هم ورکړی وو.

"وړومبی وادۀ د الائي (هزارې) د عاقبت شاه لور (ولاجان بي بي) سره شوی ؤ چې د حبیب خان نمسۍ وه. دوي د هزارې نه وردګې ته نقل مکاني کړې وه چې درې زامن محمد ریاض، محمد اعجاز او محمد نواز خان ترې زېږېدلي دي. دغسې الله پاک ورله پنځۀ لوڼه ورکړې وې چې په کښې دا وخت دوه لوڼه مملکت (ګل بي بي) او نزاکت ژوندۍ دي او مېمونه، ناز پرور او همدمه وفات شوي دي، الله پاک دې وبخښي. ساقي صېب دوېم وادۀ د محمد نارۍ د تاج محمد خان لور (بي بي زاده) سره شوی دی چې د محمد نارۍ د سلطان محمد خان (د باچا خان خوریي ؤ) د ترۀ لور وه او یوه لور همدمه بي بي ترې زېږېدلې ده، چې د محمد نارۍ د فرید خان په زوی خلیل خان وادۀ ده او څلور زامن ترې پېدا شوي دي، چې نومونه ئې دا دي: شېر شاه، سېفور، نادر او محبوب. په دوي کښې سېفور ژوندی دی او نور وفات شوي دي"(۱۴)

د ساقي صېب د اولاد شجره وار ترتیب څۀ داسې دی: شجره (۱۵)مخ

"د ساقي صېب د مشر زوی محمد ریاض خان دوه زامن دي، اېمل خان او عادل خان. د محمد اعجاز خان دوه زامن دي محمد پارس خان، محمد عارف خان او د محمد نواز خان دوه زامن دي، محمد عبدالرحیم خان او محمد عبدالعزیز خان. د عادل خان یو زوی دی کامل خان او د اېمل خان درې زامن دي سباوون خان، خوشحال خان او مشال

خان. د فضل الرحیم ساقي د ورور عبدالکریم خان درې زامن دي محمد علي خان، نصرالله خان او همایون خان، د محمد علي خان دوه زامن دي سیف الله خان او شاکرالله خان، د نصرالله خان یو زوی دی تیمور خان او د همایون خان یو زوی دی عمردراز خان. د عمر دراز خان زوی آدم خان دی، د سیف الله خان دوه زامن دي راحت الله خان او سعد خان"(۱۶)

## ۱.۵: سیاسي ژوند:

ساقي صیب په داسې وخت کښې سترګې غړولې وې چې د ټول هندوستان عموماً او د پښتونخوا فضا خصوصاً په سیاسي توګه ډېره د اړې ګړې ښکار وه او د فضل الرحیم ساقي خپله خاوره اشنغر خو ښېغ په ښغه د دغې سیاسي اثراتو نه متاثره وه، د هغې وجه دا وه چې په دې خاوره د مجاهد حاجي صیب ترنګزي مجاهدي تنظیم د "انجمن اصلاح افاغنه" او "خدائي خدمتګار تحریک" غوندې قوتونه د انګرېز سره د ډغرې دپاره راولاړ شوي وو او د دې مشري د باچا خان په لاس کښې وه، که یو خوا په دغې وخت کښې د پښتنو دغه یواځنی مشر ؤ نو بل خوا باچا خان د ساقي صیب په رشته کښې هم راتلو نو ښکاره خبره ده چې ساقي صیب به د دې تحریکونو نه خامخا متاثر کېدو او په دې کښې به ئې حصه اخسته او چې حصه ئې واخسته نو بیا ئې ټول ژوند هم دغې قامي او سیاسي خدمت ته وقف کړو. نۀ صرف یوازې ساقي صیب بلکې د هغه ټول خاندان په څۀ نه څۀ شکل کښې په دې تحریک کښې حصه اخستې ده:

"رځړو کښې زما کنان خېل قوم په سن ۳۰-۳۲ کښې په تحریک کښې ډېره ښه حصه واخسته. د هغې یو سبب دا هم ؤ چې باچا خان دواړه ودونه زمونږ په قوم کښې کړي وو، خو کومو کورونو کښې چې باچاخان ودنه کړي وو، هغوی په خدائي خدمتګارۍ کښې بیخي حصه وانۀ خسته. زما د یو ترۀ زوی فدا محمد خان چې د باچا خان خورئېی هم ؤ، په سن ۳۰ - ۳۲ کښې قیدونه تیر کړۀ او بیا چې انتخابو نه راغلل نو دې د ډسټرکټ بورډ ممبر شۀ او بیا د دغې اداري په خوښه چئیر مین هم شۀ او چې څۀ ورځې تېرې شوې نو بیا د تحریک نوم په خلۀ وانۀ خسته. زما د بل ترۀ زوی انور خان د رځړو د تپې جرنېل ؤ په سن ۳۲ کښې ئې قېدونه هم تېر کړي وو. د چارسدې د شراب خانې په پکټنګ کښې ډېر ښه کار کړی ؤ. خو ژوند ورسره وفا و نۀ کړه او په سن ۳۵ کښې د جیلخانې نه راخلاص شه نو ځان سره ئې د تې بي مرض راوړی ؤ او مړ شۀ"(۱۷)

ساقي صېب د سياسي ژوند چې د خدائي خدمتګار تحريک نه ئې شروع کړې دی، داسې ليکي:

"په ۱۹۳۰ء کښې مې په خدائي خدمتګارۍ تحريک کښې کار شروع کړو"(۱۸)

دغه د خدائي خدمتګارۍ نه د سياسي ژوند شروع کېدل ئې هم دغسې روان ؤ او تر مرګه هم په دغې کښې ؤ.

"۱۹۳۰ء د پښتنو په تاريخ کښې ډېر اهم کال دی، په دغه کال چې څومره واقعات شوي دي او د ازادۍ د شمعې پتنګانو په کښې د قام اولس د خدمت او د وطن د ازادۍ دپاره څومره ډېرې قربانۍ ورکړې دي، ځانونه، مالونه او جائيدادونه ئې په دغه لاره کښې تباه او برباد شوي دي نو ساقي صېب هم چې په ۱۹۳۰ء کښې د حضرت باچا خان د خدائي خدمتګارۍ لمن نيولې ده نو بيا ئې په وړومبي نومبر ۱۹۹۴ء کښې په خپل مرګ پرېښې ده. ګويا ساقي صېب په ۱۹۲۷ء کښې په خدائي خدمتګارۍ کښې خپل فعاليتونه شروع کړي وو، هغه ئې د خپل ژوند تر وروستي سپرلي پورې جاري ساتلي وو او کوم کار چې ترې د لوئي الله په فضل باچا خان بابا اخستی دی، د هغې نه ئې په هېڅ حال کښې هم غاړه نۀ ده غړولې او هغه ټول تکليفونه، مصيبتونه، غمونه او دردونه ئې د يو نۀ ستړي کېدونکي سپاهي په شان د خپل ژوندي ضمير، ويښ احساس او بېدار شعور سره زغملي دي چې د خپل مقصد د حصول په لاره کښې پرې راغلي دي. هغه د باچا خان يو داسې سپاهي ؤ چې د خدائي خدمتګارۍ په ډېرو سختو کانيزو او ازغنو لارو کښې ئې هم د ډېر صبر، زغم او برداشت نه کار اخستی دی، د جېل صعبتونه ئې زغملي دي، د خپل کلي کور، خپل خاندان، خپلو بچو او خپلو مېنو نه لرې پاتې شوی دی او تر ډېر لرې پورې ئې د باچا خان د خدائي خدمتګارۍ پېغام د خپلې خوږې پښتونخوا ښار ښار، کلي کلي، کوڅې کوڅې او کور کور او د هر پښتون بچې بچې زړۀ، ذهن او روح ته رسولی دی. د خپل نېک مقصد د حصول دپاره ئې تبليغ کړی دی او د دغه تبليغ په ذريعه ئې په سوونو او زرګونو نور خدائي خدمتګار د جغ نه ازاد کړي دي."(۱۹)

په خدائي خدمتګارۍ کښې شامليدل څۀ داسې ساده خبره نۀ وه، د برطانئې د سامراجي قوت سره ډغره وهل ؤ، په دغه ډغره کښې سر ماتېدل، جېل ته تلل، جائيداد ضبط کېدل، کورلوټ کېدل او سوزېدل، جلا وطن کېدل او دغه رنګ نور اذيتونه هم شامل وو، خو دغې ټولو ته ساقي صېب ډېره په حوصله سينه ډال کړې وه او دا هر د خدائي خدمتګار تحريک د تربيت نتيجه وه.

"خدائي خدمتګار داسې زلمي پیدا کړي وو چې هغوی ته مرګ او سختۍ توقې ټکالې ښکارېدې، په خپل کردار او عمل ئې د پېرنګي کبر او غرور داسې مات کړو چې بیا ئې سترګې پورته نۀ کړې"(۲۰)

د ساقي صیب چې په خدائي خدمتګارۍ کښې تربیت وشو او باچا خان ته هم د کار او اعتماد سړی ښکاره شو نو ذمه واري ئې ورته حواله کړه، په دغه حواله په خپله لیکي چې:

"۱۹۳۵ء کښې د خدائي خدمتګارو نه پابندۍ پورته شوې، پارلمنټري بورډونه جوړ شو، الیکشن وشو، هندوستان په یوولسو صوبو کښې اتو صوبو کښېد کانګرس وزارتونه جوړ شو. په ۱۹۳۸ء کښې د خدائي خدمتګارۍ نوی تنظیم جوړ شو، زۀ د برانچ د جرګې سیکرټري شوم، یوه میاشت پس د شپې د جرګې سیکرټري شوم، شپږ میاشتې پس د تحصیل د جرنیل د سُرخپوشو خدائي خدمتګارو د دفتر سیکرټري شوم."(۲۱)

خدائي خدمتګار یو فعاله او منظم تنظیم ؤ، هر چاته به په خپل خپل اهلیت مطابق د واک اختیار، د عهدې او مشرۍ حق ورکړی کېدی شو. په **۱۹۳۸**ء کښې ساقي صیب ته په اول ځل د خدائي خدمتګار په انتظامي ډهانچه کښې په عملي توګه په نوي تنظیم سازۍ کښې د سکرټري په عهده د خدمت موقع ملاؤ شوه. د خپلې عهدې او کار په باره کښې لیکي چې:

"په ۱۹۳۸ء کښې ورسره سیکرټري شوم، دفتري کار مې درست کړو، د خدائي خدمتګارو د فهرست بیل کتاب، د کرنیلانو (جرنیلانو) د اجلاسونو چې هره میاشت کښې به باقاعده کېدل، کاروائي کېده، لیکلې شوه بیل کتاب، خط لېږل او د بره نه یا کوزه نه د خطونو د راتلو یا درست او ضروري نقلونه کتاب کښې لیکل، زما په ملګرتیا ډېر خوشحاله ؤ، یو ځائ مو دورې کولې."(۲۲)

ساقي صیب نۀ صرف په خدائي خدمتګارۍ کښې ښۀ فعال کردار ادا کړی دی او خپلې ذمه وارۍ ئې ډېر په ښۀ طریقه سر ته رسولې دي، د خدائي خدمتګارو د خدمت دپاره او د هغوی د مال و جان د حفاظت دپاره چې کله غني خان د "زلمي پښتون" په نوم د پښتنو زلمو یوه جرګه جوړه کړه نو ساقي صیب په دې کښې هم برخه اخستې وه او خپله ونډه ئې په کښې اچولې وه.

"د باچا خان زوی عبدالغني خان د زلمي پښتون تحریک شروع کړو، ما هم ورسره د کوهاټ، بنو او یوسفزو دورې شروع کړې، ټولو خدائي خدمتګارانو یو ځل بیا وسلې راواخستې چې د خپلو ځانونو او کورونو حفاظت وشي، مونږه د خپل مرکز هم ځوکۍ

کوله، اتۀ ټوپکه به راسره وو، ځکه چې په مرکز باندې د مسلم لیګ د حملې سخته خطره وه"(۲۳)

ساقي صېب به د خدائي خدمتګار تحریک په کارونو او جلسو جلوسونو کښې ښۀ په جوش او جذبه شرکت کولو، تقریرونه به ئې هم په کښې کول، نظمونه به ئې هم وئیل او رودادونه به ئې هم لیکل.

"زۀ هم په ابتدائي دور کښې خدائي خدمتګار شوی وم، سره وردي به مې جلسې جلوس دپاره اغوستله، جلسو کښې به مې نظمونه وئیل او د خپل کلي د خدائي خدمتګارو لیکل لوستل به مې هم کول".

د پښتونخوا نه بهر به هم په دورو تلو او خلق به ئې د دې تحریک د اغراضو مقاصدو نه خبرولو او د ځان سره به ئې شاملولو او نورو سیاسي سرګرمو کښې به ئې هم حصه اخسته لکه چې وائي:

"۱۹۲۹ء کښې د کانګرس جلسه په لاهور کښې د راوي سیند په غاړه وشوه او په هغې کښې د مکملې ازادۍ مطالبه د پېرنګیانو نه وشوه، چې هغې جلسې له باچا خان سره د ټولو ملګرو تلی وو، چې د هغه ځای نه راغلل نو د خدائي خدمتګارۍ بنیاد کېښودې شو، خدائي خدمتګارو له ئې سرې وردۍ جوړې کړې"(۲۴)

په دغه تحریک کښې د نورو ډېرو سختیو نه علاوه ډېر ځله د زندان ښکار شوی دی، خو د خپلې لارې نه نۀ دی اوړېدلی.

"د ساقي صېب په قول د هغۀ قومي شاعري د کال ۱۹۲۷ء نه شروع شوې ده، په (انجمن اصلاح افاغنه) او پس په کانګرس تحریک کښې شامل شو. ۱۹۳۲ء کښې ګرفتار شو او نهه میاشتو نظر بندۍ نه پس ازاد کړی شو. په کال ۱۹۴۲ء کښې د تحریک له خوا د ازاد قبائلو (مهمند او باجوړ) او پس تا بیل د یو بل وفد سره د امیر په حېث تیراه ته په دوره لاړو. په کال ۱۹۴۸ء کښې بیا ګرفتار شو چې په کال ۱۹۵۳ء کښې راخلاص شو"(۲۵)

د ساقي صېب په سیاسي خدماتو کښې جېلونو ته تلل هغه نۀ ستړی کړو او نۀ واپس او چې کله به هم د جېل نه راغی نو حوصله به ئې نوره هم زیاته شوې وه، خو سیاسي جذبه ئې سړه نۀ شوه، اګر چې د جېل سختو ورله صحت هم خراب کړی ؤ او د ډېرو بیمارو ښکار شوی هم ؤ.

"چې راغلی یم نو کله جوړ او کله ناجوړه، چې جوړ یم نو د خپلې ډلې نېشنل عوامي پارټۍ په جلسه اجلاس کښې شامل شم او چې ناجوړه یم نو مجبوراً پاتې وي. په

نومبر ۱۹۶۳ء کښې خپلو ورونو عزيزانو د بنيادي جمهوريت (يونين کونسل) د ممبرۍ دپاره په اتفاق خوښ کړم"(۲۶)

د ساقي صيب ټول ژوند هم په سياست کښې تېر شوی دی او هغه هم قامي سياست، نهٔ چې ذاتي او تر مرګه پورې هم په سياست کښې د قامي او وطني مفادو په اصولو کلک ولاړ ؤ.

### ۱.۶: قامي خدمت:

چې خدمت د قام کوي د قام سردار دی
چې پرې خپل عرض کوي د قام غدار دی
چې د غورې بوټۍ وويشي په خپلو
بادشاه نهٔ دی بس د غوښو دکاندار دی" (۲۷)

د خدائي خدمتګار غورځنګ بنيادي مقصد که يو طرف ته انګرېزان د وطن نه ويستل وو، اګر چې دا هم غټ قامي خدمت ؤ، خو بل طرف ته د دې تحريک مقصد د پښتون قام خدمت په سياسي، معاشي، معاشرتي او علمي توګه کول وو. د دغې جذبې بنياد خالص مخلص په اخلاص اډانه وو، ځکه چې خدائي خدمتګارانو خپل مال، اولاد او جائيدادونه پرېښي وو نو صرف او صرف د دې دپاره چې د خپل قوم، وطن، ژبې او ادب خدمت وکړي، ځکه چې دغه د يو قوم د پرمختګ او ترقۍ بنيادي عناصرو کښې شمار وو.

په خدائي خدمتګارۍ کښې د شامليدو دپاره څهٔ قانون او قاعدې او حلف نامه هم وه، په دغې حواله ساقي صيب په خپل کتاب "خدائي خدمتګارۍ کښې د تنظيمونو" د سرخط لاندې ليکي:

"هر کلي کښې په پنځويشتو کسانو يو جمعدار او په څلورو جمعدارانو يو کرنېل او په لسو کرنېلانو يو جرنېل ؤ او د تحصيل په ټولو جرنېلانو به يو تحصيل جرنېل ؤ او د ضلعې په تحصيل جرنېلانو به يو نائب سالار ؤ او د ټولې صوبې په نائب سالارانو به يو سالاراعظم ؤ چې هغه به خاص د باچا خان احکام په ځائ راوړل. هر يو خدائي خدمتګار به حلف نامه باندې دستخط کولو، حلف نامه دا وه:

- ❖ زهٔ خپل ځان خدائي خدمتګارۍ ته په صداقت او ايماندارۍ سره پېش کووم.

- ❖ زۀ بــه خپــل ځــان او مــال او ارام پــه ایمانــدارۍ ســره د خپــل قــوم او وطــن دپــاره قربانووم.
- ❖ زۀ بــه پــه خــدائي خــدمتګارۍ کښــې داســې پــرې جنبــې نــۀ جــوړوم چــې هغــه دې تحریک ته نقصان ورسوي.
- ❖ د خپل ملک جوړ شوي څیزونه به استعمالووم.
- ❖ زۀ بــه د هــېڅ یــوې بلــې ډلــې غــړی نــۀ جــوړېږم او د ازادۍ پــه جنــګ کښــې بــه معافي نۀ غواړم او نۀ به ضمانت ورکووم.
- ❖ زۀ بــه د خپــل افســر (د افســر نــه مــراد د خــدائي خــدمتګار تنظــیم عهدېــدار دی) هر یو جائز حکم منلو ته هر وخت تیار یم.
- ❖ زۀ بــه د الله پــاک د ټــول مخلــوق یــو شــان خــدمت کــوم او زمــا مقصــد بــه وطــن ازادول وي.
- ❖ زۀ به همېشه نېک او ښۀ کارونه کووم.
- ❖ زۀ به د خپل خدمت په بدل کښې د څۀ څیز طمع یا لالچ نۀ کووم.
- ❖ زمــا ټــول کوششــونه بــه د الله پــاک د رضــا دپــاره وي او پــه هغــې کښــې بــه هــېڅ قسمه ځان ښودنه او نمائش نۀ وي"(۲۸)

په دې اقتباس کښې اول د تنظیمونو خبره شوې ده، ځکه چې په قامي تحریک کښې کار په ګډه او اشر کېږي، دا د یو کس د وس کار او خبره نۀ وي، د دې دپاره په خدائي خدمتګارۍ کښې تنظیم سازي کېدله او په هغې کښې به مختلفې عهدې وې، بله اهمه خبره د خدائي خدمتګارانو حلف نامه ده. د دې حلف نامې ټول لس شقونه دي، په دې کښې هرشق یو د قام او وطن د خدمت سره تړلی دی، د دې خلف د پورته کولو نه پس به هر خدائي خدمتګار د دې خلف نامې پوره پوره په ایماندارۍ سره پابندي کوله، ځکه چې په دې خلف نامه کښې بې ایماني په اصل کښې د قام او وطن سره بې ایماني وه. ساقي صېب چې یو ځل دغه خلف پورته کړی دی نو بیا تر مرګه پورې په دې قائم او دائم ولاړ پاتې شوی دی.

"فضــل الــرحیم ســاقي خپــل ټــول ژونــد د خــدائي خــدمتګارۍ پــه لاره کښــې تېــر کــړی دی، هــم دې ژونــد کښــې هغــوی شــاعري هــم کــړې ده، ادب ئــې هــم تخلیــق کــړی دی، سیاســت ئــې هــم کــړی دی، پــه سیاســت کښــې ئــې چــرې هــم د ذاتــي مفــاداتو خیــال نــۀ دی ســاتلی، د قــوم نــه ئــې څــۀ غوښــتي نــۀ دي، د خپــل ځــان او خپــل صحت څــۀ پــروا ئــې نــۀ ده کــړې، د خپــل کــور

او خپلو بچو تعلیم او تربیت ته په کښې هم نۀ دی وزګار شوی خو ورځ او شپه ئې په ځان یوه کړې ده. په اصلي معنو کښې ئې د خپل پښتون قام، پښتو ژبې او ادب خدمت کړی دی چې د پښتو د شعر و ادب تاریخ کښې به د سرو زرو په اوبو لیکلی شي"(۲۹)

دا یواځې د ساقي صېب تصویر نۀ پېش کوي، بلکې د ټولو خدائي خدمتګارانو تصویر دی، ځکه چا به هم په دغه قامي تحریک کښې حصه واخسته نو د هغه نه به ځان هېر ؤ او په قامي خدمت کښې به بوخت ؤ.

"هغه د باچا خان د پښتنو د قامي تحریک د خدائي خدمتګارۍ په لار کښې د یو نر او بهادر سپاهي په شان نۀ وروستو کېدونکی او نۀ تښتېدونکی ثابت قدم ولاړ پاتې شوی دی او د ظلم، زور او زیاتي خلاف ئې خپله شاعرۍ کښې اوچت اواز پورته کړی دی."(۳۰)

په دې قامي خدمتونو کښې کوم چې به دوي ته د باچا خان او نورو مشرانو د طرفه قامي خدمتونه لکه سرخې، سته ګري، دورې، جارو او د سردریاب خدمت حواله کېدو، دا ټول قامي خدمتونه ساقي صېب ښۀ په مړانه او ایماندارۍ سره کړي دي. د ستیه ګرۍ او کېمپونو په حواله په خپله داسې لیکي:

"دغه ستیاګرۍ کښې ما هم خپل نوم پېش کړو، سالار امین جان خان راغی، زمونږ د خدائي خدمتګارو د څرخو امتحان ئې واخستو، زۀ په کښې پاس شوم، بیا ئې زما کلي کور کښې د اخلاقو متعلق پوښتنې وکړې، د دغه ستیاګرۍ یوه هفته کېمپ د باچا خان په کلي پنهرکو کښې مقرر شو، د څرخو او تقریر کولو ټرېننګ ئې راکولو. د دې ځائ نه په اخري ورځ مو د هرې ضلعې ډپټي کمشنر له نوټسونه ولېږل چې زۀ فلانی د فلاني زوی د فلاني کلي د فلاني تحصیل او تانې به په فلاني تاریخ په فلاني وخت په فلاني مقام د جنګ برخلاف تقریر ستیاګره کوم، تۀ خبر شه. هر چاته خپل ځایونه وښودلی شو، زما ستیاګره په کوهاټ کښې نري پنوس نومې کلي کښې مقرر شوه. کوهاټ کښې احمدي بانډې ته لاړم، شېر حسن خدائي خدمتګار راسره شو او نري پنوس ته لاړو، تانېدار او سپاهیان هم راسره شو او نري پنوس ته لاړو. تانېدار او سپاهیان هم راسره وو، مونږ جماعت ته ورغلو، تقریر مو شروع کړو، د جنګ ټول واقعات مې بیان کړل او چې ټیک درې بجې شوې نو د ستیاګرۍ هغه ښودلی شوی سبق مې تکرار کړو."(۳۱)

د قام په خدمتونو کښې څو ځله پولیسو ګرفتار کړی دی، په وهلو ټکولو ئې حوالات، تانې او جېل ته بوتلی دی، د قېد او نظربندۍ سزاګانې هم ورته ورکړی شوي دي خو دا هر څۀ ئې ډېر په

روڼ تندي د باچا خان په مشرۍ کښې د خدائي خدمتګار د خلف نامې د لاندې د يو ايماندار غړي په حېث زغملي دي، ځکه خو نن د دۀ نوم د تاريخ په پاڼو کښې ژوندی دی.

عبدالاکبر خان اکبر د ساقي صېب د دغې قامي تحريک په حواله ليکي چې:

"د رځړو خانزاده پښتون دی، په وردګه کښې اوسي، ښۀ قامي شاعر دی، يو ديوان ئې هم چاپ شوی دی "د وينو جام"، ښۀ خدائي خدمتګار دی، په کراتو قېد شوی دی، غېر علاقه تيراه کښې تبليغ له لېږلی شو، ډېرې سختې ئې تېرې کړې دي"(۳۲)

ساقي صېب د خپلې ګرفتارۍ او د جېلونو د خراب حالاتو او سختو ذکر داسې کوي:

"په نهمه جنورۍ ۱۹۳۲ء زۀ هم ګرفتار شوم او هم په دغه شپه د يو لوی چالان سره هري پور ته ولېږلی شوم، يخني وه، ژمی ؤ، يو يو کمبل ئې هر چاله ورکړی ؤ. بارکونو کښې د يو بل دپاسه هم نۀ ځائېدل، يوه خالي احاطه وه، هغې کښې ئې ورله چولدارۍ ولګولې، د کارخانې بارکونه هم ټول ډک پراتۀ وو، ځکه چې کارخانه کښې لاڅۀ کار نۀ وو شروع شوی، روژه وه د خوړلو څښلو انتظام ډېر خراب ؤ، ماښام به شو د خوراک به ئې څۀ رانۀ وړل په اوبو به مو روژه ماته کړه، پېش منی به شو بيا به ئې څۀ رانۀ وړل، نهر په نهره به بيا روژه شوه، ورځ به تېره شوه ماښام به ئې چرته يوه يوه چپاتۍ راوړه، هغه به خلقو وتښتولې چا به څۀ وخوړل او څوک به بيا هم هغسې نهر پاتې شو. د جېل افسرانو جرنېل بريلي ته وليکل چې قېديانو بغاوت کړی دی، نۀ ګنتۍ ته کښېني، نۀ د ډوډۍ تقسيم ته او زمونږ حکم نۀ مني، جرنېل په خپله د حالاتو د کتو دپاره راغلو، جېل ته رانتوتو مونږ ټول ئې په احاطو کښې بند کړي وو، د ډاکټر خان صاحب زوی عبېدالله خان ورته د انتظام متعلق څۀ شکايت وکړو، جرنېل ورته په انګرېزۍ کښې کنځل وکړل، عبېدالله خان هم ورته هغسې کنځل وکړل. قېديانو چې دا حال وليدو نو د انقلاب زنده باد، ظالم حکومت برباد چغې ئې جوړې کړې، جرنېل چې به د کومې احاطې مخې له ورتلو هم هغسې چغې به وې، هغه هم په قهر او غضب بهر ووتو. چېف کمشنر ته ئې وليکل چې هري پور جېل کښې قېديانو بغاوت کړی دی، بغېر د فوج نه د دوي انتظام نۀ شي کېدی او فوج هم ګوره پکار دی، ځکه چې د دې وطن خلق د دوي سره رعايت کوي. بله ورځ سحر وختي چې مونږ سترګې وغړولې نو د جېل خانې د ګوټونو په څلورو واړو بُرجونو او د لنګر په څلورو واړو برجونو ټوپک په لاس سنګين خېژولی د ګورو پېرې ولاړې وې او په چکر کښې يو لوئی ټوپ د ببرو او زنځيرو لګېدلی ؤ. دغه وخت ټول مشران په کشرانو جولۍ په لاس وګرځېدل او دا خواست ئې ورته وکړو چې حکومت د پښتنو د ازادۍ تحريک د ختمولو بنا کړې ده، که دې وخت کښې مونږ هم څۀ قدم

پورته کړو نو پېرنګیان به مونږ ټول په بارکونو کښې ختم کړي او که څوک ژوندی پاتې هم شي نو هغوی به دومره ویرېدلي وي چې د تحریک نوم به هم په خولهٔ وانخلي او بهر چې زمونږ ملګري څوک پاتې وي هغه به هم دباؤ شي"(۳۳)

دا وې هغه سختې چې ساقي صېب د قامي خدمت په سلسله کښې تېرې کړي دي، دا خو ئې د جېل د وخت صرف یوه واقعه لیکلې ده، د ساقي صېب زیات ژوند هم په دغه مبارزه او زندان کښې تېر شوی دی او دغه شان د قام د خدمت سره دا ټولې خبرې لازم ملزوم وې.

## ۱.۷ مړینه:

د ساقي صېب ټول ژوند د مبارزو، ستونزو او تکلیفونو نه ډک ؤ خو چونکې هغه عملي خدائي خدمتګار ؤ نو د دې قسمه یو خنډ هم د هغهٔ مخې ته نهٔ شو راتلی، نهٔ ئې د هغهٔ نه د ژوند هلې ځلې ترورلی شوې، خو بیا هم مرګ حق دی او په کفن کښې شک دی، دا د زهرو ګوټ به په خوښه او ناخوښه هر زنده سر خامخا تېروي، که د پېرنګي په لاس کښې شاه وه نو خدائي خدمتګاران به لاپخوا مړهٔ وو او ساقي صېب به هم دومره ژوند نهٔ ؤ کړی خو ساه اخستل صرف د الله په لاس کښې دي نو ساقي صېب چې خپل طبعي عمر پوره کړو نو الله تعالیٰ ترې روح واخستو.

د ساقي صېب د مړینې په حواله معظم جان معظم لیکي:

"دې سرلوړي ملي مبارز، اتل، انقلابي شاعر، خدائي خدمتګار په کال نولس سوه څلور نوي کښې په وړومبي نومبر (۱ نومبر ۱۹۹۴ء) کښې خپل دائمي ژوند ته سفر وکړو"(۳۴)

آریانه دائرة المعارف د علومو اکېډیمي افغانستان د ساقي صېب د مړینې په نېټه کښې تېروتنه کړې ده او لیکي چې:

"فضل الرحیم ساقي یو له هغو کسانو څخه دی چې د فخر افغان خان عبدالغفار خان آټوبیوګرافي "زما ژوند او جدوجهد" د کتاب چاپ ته د برابرولو په چارو کښې ئې ډېر زیار ایستلی دی او د لیکوال د مننې وړ ګرځېدلی دی. ساقي د ۱۹۹۱ء کال د نومبر په لومړۍ نېټه مړ شوی دی"(۳۵)

د "پښتون" رسالې سره د ساقي صېب ډېر نزدې تړون پاتې شوی دی، د ساقي صېب په وفات ئې یو خبر د هغوی د مرګ هم خپور کړی دی.

"فضل الرحیم ساقي زمونږ نه لاړو: د پښتو ژبې مشهور انقلابي شاعر او نثرنګار د باچا خان بې انتها معتدر او د باچا خان معتقد خدائي خدمتګار فضل الرحیم ساقي زمونږ نه د همېشه دپاره بېل شو. انا لله و انا الیه راجعون. د فضل الرحیم ساقي په پښتون قام بې انتها احسانات دي، د ازادۍ په جنګونو کښې او بیا د پښتون د حق

دپاره ئې په خپل سر مال بچو نه بې پروا په هر تکلیف او مصیبت کښې وردانګلي دي. د هغوی ژوند ځانله یو کتاب ؤ، د ساقي وفات د خدائي خدمتګار تحریک د لیکوالو په اخري قافله کښې شامل ؤ. "پښتون" اداره د هغه بېلتون یوه صبر ازما واقعه ګڼي او دعا کوي چې الله تعالیٰ دې هغوی ته د خپل رحمت په غېږه کښې ځای او پسمانده ګانو ته د صبر جمیل ورکړي، آمین"(۳۶)

ساقي صېب په وردګه کښې د سړک په غاړه خاورو ته سپارلی شوی دی او د هغه په خازه چې کومې نېټې لیک دي، هغه څۀ داسې دي:

د پېدائش کال: ۱۹۰۴ء، د وفات تاریخ: اول نومبر ۱۹۹۴ء.

د بره ذکر شوو تاریخي حوالو په رڼا کښې مونږ په دې نتیجه رسو چې ساقي صېب د نومبر د میاشتې په اوله نېټه کال نولس سوه څلور نوي (۱ نومبر ۱۹۹۴ء) کښې وفات شوی دی او هم په خپل کلي وردګه کښې خاورو ته سپارلی شوی دی، مزار ئې د خپل جومات مخې ته د سړک په غاړه جوړ دی.

په قبر ئې دا شعرونه لیکلي شوي دي:

د ځوانۍ عمر چې څۀ ؤ په جېلخانو تېر شو
یا په کوڅو کښې د بې ننګه پښتنو تېر شو
نۀ د بال بچ په خوند خبر شوم، نۀ د مال و متاع
د ځوانۍ خوب ؤ د ازغو په بسترو تېر شو

❀❀❀

# حوالې


(۱) خلیل، همېش، "د قلم خاوندان" پښتو اکېډيمي پېښور، مخ ۲۰۷

(۲) ساقي، فضل الرحيم، "ژوندون"، سپن زر پرنټر ز پېښور، مخ ۱۳.

(۳) بېنوا ، عبدالرؤف، "اوسني ليکوال" صداقت خپرندويه ټولنه کندهار، ۱۳۹۳هـ، مخ ۹۷.

(۴) حسرت، زبېر، ډاکټر، "فضل الرحيم ساقي ژوند او ادبي خدمات"، تکتو جولائي دسمبر ۲۰۱۲ء، مخ.

(۵) ساقي،فضل الرحيم،ډک جام د چاپ کال نۀ لري، مخ ۲۵۶ - ۲۵۸

(۶) ساقي،فضل الرحيم،ډک جام د چاپ کال نۀ لري، مخ ۱۱۴

(۷) ايضاً، مخ ۲۵۸

(۸) باچا خان، "زما ژوند او جدوجهد"، چاپ ځای او کال نۀ لري، مخ ۳.

(۹) کاکاخېل، بهادر شاه ظفر، "پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې"، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، مخ ۱۲۰۳.

(۱۰) ساقي، فضل الرحيم، "ډک جام"، مخ ۲۵٦.

(۱۱) ساقي، فضل الرحيم، "ژوندون"، مخ ۱۳.

(۱۲) حسرت، زبېر، ډاکټر، "فضل الرحيم ساقي ژوند او ادبي خدمات"، مخ ۹۳.

(۱۳) ايضاً، مخ ۹٦

(۱۴) ايضاً، مخ ۹٦

(۱۵) ايضاً، مخ ۹۷.

(۱۶) ساقي، فضل الرحيم، "ژوندون"، مخ ۱۳

(۱۷) ساقي، فضل الرحيم، "د صبر جنګ، ساقي، فضل الرحيم، " د صبر جنګ" پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون چارسده، ۲۰۱۳ ، مخ ۸۸

(۱۸) حسرت، زبېر، ډاکټر، "مقدمه د ساقي، د صبر جنګ"، پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون چارسده، ۲۰۱۳ء، مخ ۲۰-۲۱.

(۱۹) اکبر، عبدالاکبر خان، "د برصغير په ازادۍ کښې د پښتنو برخه"، يونيورسټي پبلشرز پېښور، ۲۰۰۹ء، مخ ۳۱٦.

(۲۰) ساقي، فضل الرحيم، "ژوندون"، مخ ۲۲

(۲۱) ساقي، فضل الرحيم، "د صبر جنګ"پښتونخوامطالعاتي مرکز
باچا خان پوهنتون چارسده، ۲۰۱۳ ، مخ ۸٤.

(۲۲) ساقي، فضل الرحيم، "ژوندون"، مخ [۳۳] ۱٥٤
ساقي، فضل الرحيم، "خدائي خدمتګاري" باچا خان ريسرچ سنټر پېښور،

(۲۳) چاپ کال ۲۰۱۲، مخ ٦٦.

(۲۴) ايضاً، مخ ٦٥.

(۲۵) ساقي، فضل الرحيم، "ژوندون"، مخ ۱۷٦

(۲۶) ايضاً، مخ [۳۸] ۱۰٦

(۲۷) ساقي، فضل الرحيم، "خدائي خدمتګار" باچا خان مرکز پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ٦٥

(۲۸) ساقي، فضل الرحيم، د صبر جنګ" پښتونخوا سټډي سنټر چارسده مخ ۲٦

(۲۹) زبېر حسرت، "د صبر جنګ" مقدمه، مخ ۳۷.

(۳۰) ساقي، "خدائي خدمتګاري"، مخ ۹٦.

(۳۱) اکبر، عبدالاکبر خان، "د برصغېر په ازادۍ کښې د پښتنو برخه"، مخ ۳۲۷.

(۳۲) ساقي، فضل الرحيم، "خدائي خدمتګاري"، مخ ۸۰-۸۱

(۳۳) معظم، معظم خان، "د تاريخ يو پاڼه"، ليکوال پېښور، ۲۰۰۷ء جولائي، مخ ٦٦

(۳۴) ايضاً، مخ ٦٦

(۳۵) دائرة المعارف آريانه، پنځم ټوک، د افغانستان د علومو اکېډمي، ۲۰۱۳ء، مخ ٤۱۱-٤۱۲

(۳۷) مجله "پښتون" پېښور، ۲ جنوري ۱۹۹٥ء، مخ